خانه نو نوی کور
New Home

ISSUE 103 DECEMBER 2024

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

A news service for Afghans in America

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture. It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Alight

# د الایت د خیاطۍ درېیمې دورې څخه د ۲۰ افغان میرمنو فراغت

- د خیاطۍ درېیمه دوره درې میاشتې دوام وکړی
- الایت موسسې مخکې هم ۶۰ افغان میرمنو ته خیاطي ښوولې ده
- په دغه روزنه کې د هیوادوالو لیدنه او د نوي مهارت زده کړه؛ یوه ښه تجربه

Illustrator Credit: CVT

## د الایت د خیاطۍ درېیمې دورې څخه د ۲۰ افغان مېرمنو فراغت

د الایت غیر انتفاعي موسسې د دسمبر په لسمه نېټه، د خیاطۍ درېیمې دورې د فراغت مراسم ترسره کړل، چې پکې ۲۰ افغان مېرمنو برخه اخیستې وه. حبیب الرحمن رحمان‌یار، چې د دې موسسې د ټولنې لارښود دی، وویل چې د دې برنامې موخه د افغانانو ترمنځ د یووالي زیاتول دي. نوموړي زیاته کړه چې مهاجرې افغان ښځې په دې برنامه کې د خیاطۍ مهارت زده کولو ترڅنګ، له خپلو نورو هیوادوالو سره ښه وخت تېرولی شي. خاطره آزاد، چې د دې برنامې یوې ګډونوالې ده، وایي چې هغې غوښتل د خیاطۍ ترڅنګ له نورو افغان مېرمنو سره آشنا شي. هغې زیاته کړه چې د بې‌کاره ښځو لپاره ټول ورځ کور کې کېناستل ډېر سخت وي، او دا ډول پروګرامونه هغوی ته د خوښۍ شېبې برابروي. د الایت د خیاطۍ درېیمه دوره شاوخوا دري میاشتې دوام درلود، او هره اونۍ یوازې یوه ورځ ترسره کېده. حبیب‌الرحمن رحمان‌یار وویل چې په دې برنامه کې مېرمنو د جامو پرې کولو او ګنډلو طریقه زده کړه.

د هغه په وینا، فارغېدونکې مېرمنې اوس د ځان او خپلو ماشومانو لپاره اسلامي جامې ګنډلی شي. د هغه په وینا، فارغېدونکې مېرمنې اوس د ځان او خپلو ماشومانو لپاره اسلامي جامې ګنډلی شي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

انیسه مغول، چې د دې پروګرام بله ګډونواله ده، وویل چې له دې برنامې د فراغت وروسته اوس د خیاطۍ په خپل مهارت تکیه کولای شي. هغې زیاته کړه چې د خپلو هیوادوالو لیدل او د نوي مهارت زده کړه د هغې لپاره یوه ګټوره او خوشحاله تجربه وه. د الایت موسسه د خیاطۍ زده کړې په پروګرام کې ګډون کوونکو ښځو ته د زده کړې د هڅونې لپاره د خیاطۍ ماشینونه ورکوي. حبیب الرحمن رحمان‌یار زیاته کړه چې دوی هڅه کوي فارغېدونکو مېرمنو ته د کار زمینه هم برابره کړي. د نوموړي په وینا، د انګلیسي ژبې ناپوهي د افغان مېرمنو لپاره د کار کولو په برخه کې لوی خنډ دی. سره له دېچې یوه افغان مېرمن د دې برنامې له فراغت وروسته اوس په مینه‌سوټا کې په یوه لویه شرکت کې هم کار کوي. د برنامې ځینو ګډونوالو له الایت موسسې څخه وغوښتل چې د خیاطۍ زده کړې موده اوږده کړي. حبیب الرحمن رحمان‌یار وویل چې دوی هم غواړي د برنامې موده زیاته کړي، خو د کارمندانو وړتیا او د برنامې د ترسره کولو ځای په پام کې نیولو سره به دا وړاندیز وڅېړي. نوموړي د مینه‌سوټا مېشتو افغانانو څخه وغوښتل چې د افغانستان اړوند پروګرامونو کې فعاله ونډه واخلي. د هغه په وینا، فعاله ګډون به د دې سبب شي چې حکومت د افغانانو سره همکارو موسسو ته زیاته بودیجې ورکړي. الایت موسسې تر دې وړاندې هم شاوخوا ۶۰ افغان مېرمنو ته د خیاطۍ مهارتونه ښوولي وه. دا پروګرام د ماشومانو ساتنې او د خوړو برابرولو خدمتونه هم شاملوي.